# بېشکه مؤمن په ښو اخلاقو سره د روژه نیوونکي او اعتکاف کوونکي درجې ته رسیږي

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: "بېشکه مؤمن په ښو اخلاقو سره د روژه نیوونکي او اعتکاف کوونکي درجې ته رسیږي".
[شواهدو ته په لیدو صحیح دی] [ابو داود او احمد روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې: ښه اخلاق یې خاوند د هغه چا درجې ته رسوي چې په دوامداره توګه د ورځې روژې نیسي او د شپې تهجد کوي او ښه اخلاق په: نیک کولو، ښایسته خبرو، ورین مخ، له نورو څخه په ضرر لرې کولو او له ځان څخه د نورو په ضرر لرې کولو کې رانغاړل شوي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5799

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee